AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

سلام خان ۲۰۱۱/۰۹/۰۴

# د ولسی جرګې اتونویو وکیلانو د تحلیف مراسم پر ځای کړل



په داسي حال کې چې د افغانستان د پارلماني ټاکنو څخه څه نا څه یو کال تیریږي، د دغو ټاکنو د پایلو پر سر جنجال لا تو اوسه پورې هم روان دی. د ډیر جنجالونو وروسته، ولسمشر کرزي د افغانستان د ټاکنو کمیسیون ته دنده وسپارله چې د ټاکنو کړکیچ ته د حل لاره پیدا کړي، د ټاکنو کمیسیون د پارلمان نهه پخواني وکیلان سلب صلاحیت کړل او پر ځای یې نهه نوي کسان ورویپژندل.
د هغو نهو تنو وکیلانو له ډلې څخه چې په وروستیو کې د ټاکنو د کمیسیون لخوا بریالي اعلان شوي اتو تنو یې نن «شنبه» د سختو امنیتي تدابیرو په ترڅ کې او د سلګونو امنیتي ځواکونو په حضور سره د تحلیف مراسم پر ځای کړل،
هغو وکیلانو چې تازه یې د ټاکنو د کمیسیو څخه اعتبار لیکونه تر لاسه کړي نن سهار وختي د سختو امنیتی تدابیرو په ترڅ کې د افغانستان پارلمان ته راغلل. د پارلمان په ننی غونډي کې یوازې د اصلاح غوښتونکو د ابیتلاف غړو حضور درلود، نن سهار وخته د پارلمان په شاوخوا کې ډیر شمیر افغان امنیتی ځواکونه او د وکیلانو ساتونکي لیدل کیدل چې د دغو دواړو ډلو تر منځ د شخړې د کیدو اندیښنه یی رامنځ ته کړې وه، خو د قانون څخه د حمایت ابیتلاف اعلان وکړ چې ټول اعمال به یې د قانون په چوکاټ کې وي او داسې کوم کار په و نه کړي چې د شخړې د رامنځ ته کیدو سبب شي د قانون څخه د ملاتړ د ابیتلاف غړو چې شمیر یې څه نا څه ۱۰۰ کسانو ته رسیږي د پارلمان ننی غونډې ته د ننوتو اجازه تر لاسه نه کړه دولسی جرګې دسنبی دور ځي په غونډه کې ډیرو لږ و کیلانو اشتر اک در لود.
د ولسي جرګې مشر، عبدالروف ابراهیمي، د نوو وکیلانو د تحلیف مراسم تر سره کړل. دا په داسي حال کې ده چې د نوو وکیلانو له ډلې څخه یو یې د تحلیف په مراسمو کې حاضر نه وو، د تحلیف د مراسمو په وخت کې په سلګونو امنیتي ځواکونه د افغانستان د پارلمان د ودانۍ په شاوخوا کې حاضر ول. د افغانستان د ولسي جرګې د ۲۴۹ استازو له ډلې څخه یوازې څه نا څه ۴۰ تنه یې د نوو وکیلانو د تحلیف د مراسمو په غونډې کې حاضر ول، د قانون څخه د ملاتړ ابیتلاف هڅه وکړه چې هغه نهه وکیلان چې د ټاکنو د کمیسیون لخوا سلب صلاحیت شوي پارلمان ته دننه راولي خو افغان امنیتي ځواکونو د دغه کار مخنیوی وکړ، دغه ابیتلاف د ټاکنو په وروستیو پایلو کې د لاسوهنې خلاف دی.
وروسته له هغې چې د دغه ابیتلاف غړي و نه توانیدل چې سلب صلاحیت شوي وکیلان د ځان سره د افغانستان پارلمان ته راننه کړي، هغوی د پارلمان په غونډې کې د ونډه اخیستلو څخه ډډه وکړه، د خبرونو له مخې همدا اوس یو زیات شمیر پولیس او امنیتي کارکونکي د ولسي جرګې مخې ته راټول شوي، چې د احتمالي اړودوړ مخه ونیسي. ولسي جرګه د ټاکنو د کمیسون پر سر پر دوو برخو ویشل شوي، چې یوه برخه یې د حاجي ظاهر په مشرۍ ځانونه د قانون مدافعین بولي او بله یې ځانونه سمونپالي یا اصلاح غوښتونکي بولي
ولسي جرګې ټاکنې تیر کال د وږي په ۲۷مه ترسره او د ټاکنو خپلواک کمیسیون یې وروستی پایلې اعلان کړې، چې بیا وروسته د ولسمشر له خوا ملي شورا پرانیستل شوه، خو کله چې په ټاکنو کې د درغلیو له امله د یادو ټاکنو پایلې د لویې څارنوالی له خوا ناسمې وبلل شوې، د دې موضوع لپاره د ستري محکمې په وړاندیز او د ولسمشر په منظورۍ ځانګړې محکمه جوړه شوه، دغې محکمې تر څیړنو وروسته ٦٢ معترض کاندیدان د ټاکنو خپلواک کمیسیون ته معرفي کړل، څو له دې لارې ولسي جرګې ته وروپیژندل شي، که دا پریکړه، چې د یاد کمیسیون او ولسي جرګې له سخت غبرګون سره مخ شوه او ناقانونه یې وبلله، پلې شوې وای، نو د جرګې ٦٢ غړیو د جرګې غړیتوب له لاسه ورکاوه، د ځانګړې محکمې پریکړه د استیناف محکمې ته ولیږل شوه او استیناف د ټاکنیزو لانجو په اړه ولسمشر ته واک ورکړ. ولسمشر د یوه حکم په صادرولو سره د ټاکنو خپلواک کمیسیون ته دنده وسپارله، چې د دې موضوع حقوقي برخه ژر بشپړه کړي.
استیناف محکمې د ځانګړې محکمې د پریکړې په اړه ولسمشر ته واک ورکړ، چې په اړه یې تصمیم ونیسي، د ولسمشر د حکم په صادرولو سره د ۱۳۸۹لمریز کال د ولسي جرګې ټول موضوعات، چې د ټاکنو له خپلواک کمیسیون پرته په هره بله مرجع کې تر دوران لاندې و، بشپړ وګڼل شول، خو په حکم کې راغلي، چې له ټاکنیزو سرغړونو پرته جرمي موضوعات، چې د ټاکنو د قانون په ٦٣مه ماده کې یاد شوي، له دغه حکم څخه مستثنا دي. وروسته د ټاکنو خپلواک کمیسیون نهه تنه معترض کاندیدان جرګې ته معرفي کړل خو دغه پریکړه په جرګه کې له قانون څخه د ملاتړ ایتلاف له سخت مخالفت سره مخ شوه. د ټاکنو خپلواک کمیسیون دغه پریکړه په داسي حال کې وکړه چې مشر یې مخکې ویلي


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ

وو، چې د کميسيون له خوا د ټاکنو په اعلان شويو پايلو کې بدلون نه دی شوني او هيڅ ارګان، ان په خپله کميسيون هم په کې بدلون نه شي راوستلای.

پای


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ